مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۰/۰۴/۲۳

# د مجروح د ځانځاني ښامار يوه پاڼه

## او د استاد اڅک یوه وړوکې خاطره




پوهاند ډوکتور بهاالدين مجروح بې بديله قلموال او مفکر و. ده په فلسفه او ادبياتو کې ځانته ځانګړې لار او جلا فکر درلود، د شعر په دنيا کې يې د ځانځاني ښامار په تخليق سره، په پښتو شعر کې د يو ځانګړي سبک لار پرانسته چې په اوسني پښتو شعر کې د «ښامار سبک» په نامه يادېږي.

څه موده وړاندې د پوهاند ډوکتور بهاالدين مجروح دوه دېرشم تلين و، ما هم د ده د ياد د ژوندي ساتلو په موخه يو مقاله وليکله. د دې مقالې په پيل کې ما د مجروح په باب خپل نظر داسې څرګند کړی و:

**«مجروح سره د انسان وير و او په دې ډارېده، چې انسان د بې خبرۍ په خوب ويده پاتې نه شي، که همداسې ويده پاتې شي، تورې لښکرې به راشي، پر ښار به مسلطې شي او د انسان تر راويښېدو پورې به ښار کنډواله وي.**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

**د مجروح غېږ جا وانوړېد، همداسي وشول، توري لښکرې راغلي، ايګو خان د ښار واکدار شو او ښار په کنډواله بدل شو، مجروح هم د تورو تيارو استازو، د ګور تيارو ته ولېږه او دا دی وير يې دوه دېرش کلن شو، خو افکار يې تاند او زلمي ګرځي راګرځي او د پوهي نوی لښکر جوړوي.»**

د مجروح صاحب د شعر يوه برخه ځکه راياده شوه چي، په همدې ورځو کي د خپلو مقالو پر يوه ټولګه باندي کار کوم، د دې ټولګي يوه مقاله زما  يو استاد خدابښلي استاد بايزيد اڅک ته وقف شوې ده.  هلته هم د مجروح صاحب د ځانځاني ښامار د يوې برخي (د مجروح د ځانځاني ښامار يوه پاڼه) يادونه شوې وه.

پر استاد بايزيد اڅک دې خدای ورحمېږي، د مقايسوي ژبپوهني يو بې جوړی استاد و. استاد اڅک پوري اړوند، د محصلي او بيا د استادۍ دوري خاطرې څومره چي زما په ياد دي، په هغو کي زه يوه داسي خاطره په ياد نه لرم چي استاد اڅک دې ما ته يا بل چا ته يوه بده خبره هم کړې وي. داسي چلن يې کاوه چي هر چا به ګڼله چي دی يې له پخوا پيژني يا يې د کورنی غړی دی او يا يې له ډير پخوا ملګری دی. زه يې د مخامخ شاګردی وياړ لرم.

د شپيتمي لسيزې څلورم که پنځم کال و چي يوه ورځ «اڅک صاحب»زما د ناستي خوني ته را ننوت، زه لګيا وم د پوهاند ډوکتور بهاالدين مجروح ځانځاني ښامار مي لوست، کتاب مي چپه د ميز پر مخ کېښود، د درناوي په دود ورته ودريدم، له چای سره مي وچه ميوه مخکي ور ته کيښوده، وي پوښتلم:

په څه لګيا يې؟ څه شی لولې؟

ما په شاګردانه او عاجزانه ډول ور ته وويل:

د مجروح صاحب ځانځاني ښامار دی. ده را غبرګه کړه:

دغه مخ چي تا لوسته، يو څو کرښي يې را ته واوروه!

دا کار ما وکړ، خو ده په يوه ځانګړې خوځېدا سره زما د لوستلو لړی را غوڅه کړه او وی ويل:

«ځانځاني او خودي خو په هر چا کي شته او «ايګو» خان نن سبا د هر چا پر اوږو سپور دی،  ته يې د فلسفي او محتوا په باب فکر وکړه، خو زه د مجروح ژبني اړخ حيران کړی يمه، دومره يې روان او د ګرامر پر اصولو سم ليکلی دی چي سړی ورته حيران شي.»

اوس هم ځانځاني ښامار لکه تل زما د کار پر ميز ايښی دی، هماغه مخ چي استاد بايزيد اڅک ته مي اورولی و، دلته يې را نقلوم او له تاسو درنو لوستونکو سره يې شريکوم:«

## هغه ښار چي ټول ښاريان يې رنځوران وو

لاروی د نيمو شپو وم

هلته ناست د سمڅي خولي ته

هک حيران وم

نږدې هلته

ښکاريده رنګ ديوالونه

کنډوالي وې د کوم زوړ لرغوي ښار دا

رواقونه زوړند ــ زوړند، مرمري ستني ولاړې ځيني ملاستي

داسي فکر مي کولو:




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ

آخر ځوک به را پيدا شي

زماني به ور ياديـږي تيرې، تيرې

د دې ورکي آبادۍ

خبر به واخلي

د دې ښار تير شوی ژوند به را بيان کړي

را ته وبه کړي کيسي زړې، زړې هم...»

(مجروح، ډوکتور بهاالدين، ځانځاني ښامار، د ادبياتو او بشري علومو پوهنځی، ۱۳۵۶ کال، ۱۹ ام مخ)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ